ليکونکی: پروفيسور جيمس پيتراس(Prof. James Petras)
منبع او خپريدو نيټه : ګلوبال ريسرچ «21-03-2018».
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# ولي انګليس ، داروپا اتحا د يی او دامريکي متحده ايالات د روسيی په وړاندی سره يو شوي دي

# Why the UK , the EU and the US Gang- up on Russia



ولاديمير پوتين

ديوی لسيزی داوږدی مودی په ډيرو وختونو کي بريتانيا ، دامريکي متحده ايالات اواروپايی اتحاديه په ګډه سره دروسي دحکومت د کمزوری کولو اوبيا په ځا نګړي توګه داولسمشر **ولاديمير پوتين** دړنګولو لپاره په مبارزه لاس پوری کړي دی کوم چي اساسی او بنسټيز مسايل په شمول د واقعی اتومی جګړی دخطر مسله هم په معرض دخطر کی واقع شوی دی .

دولويديز لوی پروپاګند ی کمپاين اويو تر ټولو ډير مضر او خطرناک تهمت دانګلستان دلمړی وزير**تيريسامی**( Thersa May) لخواپيل شوی اوهغه داچي ، بريتا نيا داسی ادعا کوی چی دروسيی استخباراتی اداره د بريتا نيا دواکمنی اود مصونيت د تهد يد لو دپاره دروسيی پخواني دبل (دواړخيز) جا سوس اودهغه د لور په زهرو سره مسموم کول دی کوم چي په دی مورد کي لا تراوسه کومه کره شواهد هم په لاس کی نشته . اما دبريتانيا حکومت له دی نه چی دبريتانيا ددولت په ادعا سره دهغه هيوادمصونيت اوامنيت دروسی داستخباراتوله طرفه دخطرسره مخامخ دی نو دهمدی اصل په نظرکی نيولوسره بريتا نيا دروسی دديپلوما تا نو داخراج حکم صادر کړاوهم دروسی په مقابل کي دزياتو تحريمونو د سرته رسولوغوښتنه وکړ کوم چی د بريتا نيا ددی غو ښتنی سره اروپايی اتحا د يی

اود امریکی حکومت خپل ملاتړ اعلان او هغوی تیول اوس په دی لته کي دی چی دروسی سره اړیکی ترینګلی کړی او د روسیی په وړاندی یوه نظا می ځواک په ګډه سره رامینځته کړي .

**دروسیی پرضد د ځنو اسا سی اوریښوی د ودی په حا ل د د ښمنی د اصلی لاملونو اوعلتونو رامینځته کول:**

غربی ی رژیمونه په اوسنی حا لت یا اوضاعو کی ولی داسی احساس کوی چی روسیه دهغوی د پا ره نسبت پخوا ته یو ډیر لوی او ځواکمن تهد ید دی؟ آیا هغوی یعنی دغه غربی رژیمونه په دی باور دي چي روسیه دغرب د تهد یداتو اود حملا تو په وړاندي به د نقص اودضرر سره مخا مخ شی؟ ولی دغرب نظا می رهبران د روسیی د دفاعی توان دتحلیل اودارزیا بی په لته کی دي ؟ آیا د امریکی دمتحده ایالاتواقتصادی کارپوهانو په دی با وردي چی د روسیی داقتصاد دسبوتاژپه سرته رسولوسره به اولسمشر ولادیمیر پوتین داقتصادی بحران او سقوط سره به مخامخ کړي ؟ پس نو د غربی سیاستوالو استراتیژیکی هد ف دروسیی په وړاندی څه دی؟ ولی دبریتانیا رژیم دروسی دحکومت دتهمت په واردولو سره له دی لاری څخه د ضد روسیی دصلیبی جنګ دزهر په شیند لو سره دروسیی پرضد صلیبی جګړی ته لمن وهی ؟

دغه مقا له دکلیدی اوداصلی سوالونو دځواب ورکو لو دپاره چمتو شوی دی .

**د لوید یځ یرغل د پاره تا ریخي مقا له** : دلته روسی ضد غربی کړی او حلقی دیو شمیر زیات بنستیز تاریخی عواملو په نظرکی نیولو سره د (۱۹۹۰) لسیزو په اوږدو کی هڅه کړی دی چی غربی رژیمونه د روسیی پر ضد د ښمنی ته را وکاږي .

**لمړی** اوله هر څه نه مهم د (۱۹۹۰) لسیزی په اوږدو کی دامریکی دمتحده ایالاتو دولت تر هرڅه نه مخکی زیار ایستلی چی دروسیی دولت تخریب کړی او دعامه خلکو په نظر داسی ښکاره کړی چي دروسیی دولت یو بی اتفاقه تیت وپیت حکومت دی او دامریکی دولت یو موتی او متفق دولت دی .

**دوهم** : غربی نخبګان یا کار پوهانو روسیی اقتصاد یو تالا شوی او لوټ شوی اقتصاد بولی اووایی چی دروسیی واکداران په سلونو میلیارد دالر د جا سو سی او د شکنجی ورکولو په لاره کی لګوی . اما والستریت ، د لندن د ښا ر با نکونه (City london) او دهیواد څخه د با ندی د بانکونو څا نګي دعا مه خلکو ګټی تامینوی .

**دریم** : متحده ایالاتو وشو کړلی چی دروسی د جمهوری ریا ست انتخابات له نژدی نه وڅا ری تر هغه چي وشو کړلی چی د یو جعلی انتخا با تو په پلي کولو سره **بوریس یلتسین** دروسی د واکمن اود رهبر په بڼه وټاکي .

**څلورم** :همدارنګه امریکی وشو کړلي چي د روسیی نظامي او علمي انستیتیونه کمزوری کړي اوخپل جنګي او مسلح قوتونه دروسیي پولو ته نژدی ځای پرځای کړي .

**پنځم** : غربي حلقي او كړيو ډاډ وركړ چي روسيه په اروپا ، آسيا ، افريقا او لاتيني امريكا كي دخپلو متحدينو او خپلواكو حكومتونو څخه ملاتړ نشي كولاى لكه همغسي چي روسيه ونتوانيدل چي په اكراين ، كيوبا ، شما لي كوريا او ليبيا كي خپلو متحد ينو سره مرسته وكړي .

اما د **بوريس يلتسين** درژيم په نسكوريدواود**ولاديمير پوتين** دروسي دمشرپه انتخا بيد و سره روسيه وتوانيد ل چي خپل دلاسه وركړي توان بيرته ترلاسه كړي ، وسله وال ځواكونه اوعلمي نظامي انستيتوتونه بيا له سره سره ورغول شو ، بي وزلي په چټكي سره له مينځه ولاړ ، اوما فيا يي حلقي كوم چي دا مريكي اود بريتا نيا ديولړ ډلو تپلو پواسطه سره ملا تړكيد ل د مينځه لاړ – روسيه په تند ريجي بڼي سره د پوتين تر سر مشري لاندې له سره بيا ورغول شو اوپه تتدريجي ډول سره دامريكي نفوذ د نړي په سطح كي متزلزل شو روسيه بيرته خپل اقتصاد او خپل زيرمي ترخپل كنترول لاندې راوستل خصوصاً د نفت او ګاز زيرمي چي دروسيي اساسي زيرمي تشكيلوي.

لكه همغسي چي روسيه خپل واكمي بيا وړي كړ خپل اقتصاد ، تولنيز ، سيا سي او نظامي برخواوسكتورونو ته وده وركړ په همغه اندازي سره غرب د خپل د ښمني لمن دروسيي په وړاندي پراخه كړل اوترهغه پوري چي دغرب له وسه كيدل وغو ښتل چي روسيه بيرته د (۱۹۹۰) لسيزي تور تياري دوري ته واړوي .

دبلي خوا څخه دامريكي متحده ايالاتو جنګي كړي او حلقي څو پرله پسي كودتا ګاني پر لاره واچول اودروسي په داخلي چاروكي نظامي لاس وهني ترسره كړ اوهم دروسي دجعلي تولتاكنو په لاس لرلوسره غوښتل چي روسه كلا بند كړي اودهغه اړيكي له نړي څخه وشكوي اوروسيه په انزوا كي وساتي . اوكراين ، عراق ، سوريه ، ليبي ، يمن اودروسيي متحدان په مركزي آسيا كي ترخپل نفوذي هد ف لاندې واچول اود «ناتو» نظامي اډې ته پراختيا وركړ .

دروسي داقتصاد په ځپلو او ويجاړولو باندې لاس پوري كړ پر روسيي باندې وارداتي او صادراتي بنديزونه ولګول ، **پوتين** يي دخپل تبليغا تي پروبا ګندي ماشين تر نا وړي تبليغاتو لاندې واچول اوهم دامريكي دغيردولتي سا زما نونو پواسطه سره د روسيي دحكومت مخا لفواحزابواودهغه هيوادضد سياستوال ته دمرستي په وركولو سره وغوښتل چي دروسي دولت ته خنډونه وزيږوي .

دامريكي دمتحده ايالاتو اوداروپا داتحاديي ګډ تبليغاتي كمپاين د روسيي په وړاندي دناكامي سره مخا مخ شو.

يعني دغرب د كلابندي يا دمحا صري طرح كړل شوي كمپا ين چي د روسيي په وړاندې تر اجرا لاندې نيول شوي وه بي له كوم لا سته راوړني څخه شنډ شو.

اوكراين سره وويشل شو، د روسيي متحدينو اويا پلويانو ختيځ برخي ترخپل كنترول لاندې راوړل ،د روسيي سره دكريما ديو ځاى كيدو په اړين دهغه ځاى خلكو مثبت راى

ورکړل ، سوریه د روسیی د نظا می قوتونو سره په ګډه او په وحد ت سره دامریکی مسلح قواوو ته په سوریه کی درووند ما تی ورکړل . روسیه دچین سره خپل تجارتی ، دحمل ونقل شبکی او ځنی زیات څو اړخیز ما لی سکتورونو ته پراختیا ورکړل .

لکه همغسی چی د متحده ایالاتو یو قطبی تول فا نتزی (واسواس) حل وفصل اویا ومینځل شو هغه څه وه چی له یوسره دهغه منشا دامریکی دجنګی حلقو دقهر اود غضب دښمنی اود روسیی په وړاندی دامریکی پواسطه سره دیو منظم حملی بند وبست وه چی دکوم لاسته راوړنی سره یوځای نه وه .

د ترهګری په وړاندي دامریکي مالی لګښت اود ا مریکي نا کا مه جنګ دکرملین په وړاندی څه داقتصادی اویا څه د ایدیولوژیکي له اړخه تولو ته څرګند شو چي یو نا کا مه هڅی اواند وه کوم چي د روسیی بیا له سره رغونه ، اودلویدیځ ماتي ،فکری ایدیولوژیکی او اقتصادی جنګونو دپاره دغرب پواسطه سره لاره لا پسی پراخه کړل .

د بریتا نیا زهرجن توطیی اوداقتصادی مخالفتونودر امینځته کولو موضوع اودلویدیځ نړی نظا می چمتوالی دروسیی په مقابل کي هغه څه دي چي بریتانیا خپل ناروا سیاست په دی ورځو کی پکار واچول.

روسیه لویدیځ ته کوم ګواښ نه دي بلکه روسیه غواړي چی خپل حاکمیت یا واکمنی ته دنړی دڅو قطبی کیدو په لمنه کی پراختیا ورکړي .

اولسمشر ولادیمیر پوتین یو «تیریکونکی یا متجاوز » شخصیت نه دي اما هغه ددی اجازه چا ته هم نه ورکوی چي روسیه دخپل بنده او چوپړ په بڼه واړوی .

ولادیمیر پوتین له هر اړخه په روسیه کی دخپل خلکو له خوا یو درووند اومنل شوی شخصیت دی او هغه د تولوخلکوخوښیږی ا ما دا امریکا یا ن دی چي هغه ته په بد ونظر ګوری او داځکه چي پوتین د بوریس یلتسین سره مخا لف نظر لری - پوتین په روسیه کي د یو ودی پحا ل اقتصا دی بهبودی د پا ره لاره پرانیستی دي . هغه دلویدیځ دوضع کړل شوی تحریمونو او بند یزینو په وړاندی مقا ومت کوی د روسیی د پولو او د خپلو متحد ینو څخه دفاع کوي .

## پا یلي : پرا نیستي پوښتنی ته په لنډ یز ځواب کي :

۱ - لوید یځ رژیمونه د ا سی انګیری یا داسی فکر کوی چي روسیه د دوی نړیوال واکمنی ته یو لوی ګواښ دی . همدارنګه همدغه لو ید یځ رژیمونه منی چی روسیه پراروپایی اتحادیی ، شما لی امریکی اویا دهغو تر جغ لاندی پر هیوادونو با ندی د تیری او د حملی کولو نیت نه لری.

۲ - غربی نړي په دی باور دي چی هغوي کولای شی چي د روسیی په وړاندي داقتصادي تحریمونو په پلی کولو کی روسیه داقتصادی له لحاظه متضرره کړی اویا

دهغه اقتصاد متلاشی کړي ،حال داچي روسیه هغه یواځنی هیواد دی کوم چی له هر اړخه پرخپل ځان متکي یوهیواد دي اوخپل تجارتی شریکان لکه دچین هیواد پخپل اړخ کی سره لری حتی چی سعودی عرب او ځنی دنړی نور هیوادونه هم غواړی چی د روسیی سره خپل تجارت ته پراخوالی ورکړی .

دبلی خوا څخه ټولو ته ځرګند شو چي دلویدیځ تبلیغاتی ماشین ونشو کړلی چی د روسیی درایورکونکو ذهنیتونه د **پوتین** په وړاند ی مغشوش کړی اویا هغوته په فکری لحا ظ سره تغیر ورکړی چي خپل رای **پوتین** ته ونه کاروی حال داچی دمارچ دمیاشتی په (۱۹) کال (۲۰۱۸) دروسیی دجمهوریت په ټولټاکنو کي ولادیمیر پوتین ته (۶۷) سلنه خلکو خپل رای وکا رول اوپه دي ډول سره ولادیمیر پوتین په دغه ټولټا کنو کی (۷۷) سلنه دخلکو رای تر لاسه کړ اوپه روسیه کی یو ډیر لوړ ریکارد ټینګ کړ .

او دهمدی ټولټاکنو په پایله کی داسی ثابته شوچي ولادیمیر پوتین دسیا سی اصل له اړخه یو ډیر مقتد ر سیا سی شخصیت دی .

د روسیی نوی او مد رن ما فوق صوت سلاحګانی دامریکی د متحده ایالاتو د نظا می رهبرانو په مینځ کي یولړ مهم تشویشونه را مینځته کړی دي کوم چي دهغوی دنګرانی موجبات را برابرکړی دي او اوس هغوی ته پوره ځرګند شوی چي روسیه د لو ید یځ د حملی په مقا بل کی کوم تشویش نه لری .

انګلیس هغه هڅه اواند چی په دي ورځو کي تر سره کړي اویا دخپل ز هرجن توطی دتحقق په لاره کي هلی ځلی تر سره کوی غواړی چي دروسیی پر ضد غرب او متحده ایالات سره متحد کړی اودبریتانیا لمړی وزیرپه دی توطیی سره غواړی چی دخپل ماتی موضوع کوم چی داروپا له اتحادیی څخه وتلی دی دخلکو نظر بل خوا ته واوړوی اوپه دی ډول دخپل شیطانت نغری ګرم وسا تی .

دامریکی دمتحده ایالاتو جمهورریس دونالد ترومپ نه غواړي چي داروپایی اتحا دیه دخپل تجارتی شریک دځای ناستي په توګه ومني په داسي حال کي چي اروپایی اتحادیی اوواشنګټن ممکن دي چي دروسیي پر ضد وغواړي چي دبریتانیا صلیبی جنګ پیل کړي. اوخپل تجارتی اجندا په مخه ویسي کوم چي انګلستان به په دي تجا رتی روند کي ونډه ونه لری.

په یو کلمه کي ، انګلستان ، اروپا یی اتحا د یی اود امریکي متحده ایالات د فرهنګي تشبها تو له لحا ظه سره یو غیر متجا نس ډله دي اما دځنو معاصرو دلیلونو په نظر کی نیولو سره دروسیی په وړاندي سره یو ځای شوی ډله دي کوم چی د روسي په ضد دانګلستان پواسطه سره د جوړ کړ شوی دسیسی له امله سازش رامینځته شوی دي – اما نړیوال اجتنا ب نه منونکی تغیر به د بریتا نیا د ما تی کید و جریا ن او روند ته به تغیر ورنکړي یعنی هغه داچي په همدی هلي ځلي سره سره انګلستان به ونشی کړلی چی دخپل ما تي پر کټو با ندی برغولی کیږدي .

*روسیه به دیو نړیوال ځواک په بنه باتی شي او اولسمشر پوتین به خپل مشرتابه ته دوام ورکړي ، لوید یځ قدرتونه به خپل ګاوند یا ن سره به وویشي اویا سره پکه او سوالګری کړي اوهغو به خپل تصمیم ونیسی چی دهغوی قضاوت دنړي په څو قطبی کیدو پوری اړه ونیسی یعنی چي هغوی یو څو قطبی نړی ومنی اوپه هغسی یو نړی کی خپل کار او دندی ته دوام ورکړي .*

**--------------------------------------- په درنا وی «2018-03-28»**